# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د غويي ۲۴مه | د ۲۰۲۰ د مې ۱۳مه | ۵۴۰مه گڼه


# د جګړو او وحشت دوام؛

## ځانمرګو بريدونو په کابل او ننګرهار کې ۱۲۳ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واړوله




۳

ورو‌ستي وحشيانه بريدونه او مناسب ځواب
۲ مخ

د افغان سولې وروستي انکشافات او راتلونکی پس منظر
۲ مخ

په انساني ټولنو کې د وبايي ناروغيو تاريخ
۳ مخ

## حامد کرزی: په هېواد کې د جګړو او تاوتريخوالي ډېربدل د سولې پروسې پر وړاندې دسيسه ده

د طالبانو او امريکا ترمنځ د دوحې تړون، چې سولې ته يې د رسېدو هيلې ډېرې کړې وې، په دې وروستيو کې د جګړو او تاوتريخوالي زياتوالي د دې هوکړې د زيانمنېدو په تړاو اندېښنې ډېرې کړې دي. د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي په بلخ ولايت کې پر ملکيانو د هوايي بريد په تړاو په يوه اعلاميه کې غبرګون ښودلی او ويلي دي، چې د جګړې شدت او دوام د سولې پر وړاندې ښکاره دسيسه ده. ښاغلي کرزي ويلي، ځينې نه غواړي چې افغانستان کې دايمي سوله راشي. هغه زياته کړې: « په هېواد کې د تشدد او جګړې له زياتوالي خپله ژوره اندېښنه څرګندوم او د جګړې دوام د سولې د هڅو په وړاندې پردی دسيسه بولم. يوځل بيا په جګړه کې له ښکېلو غاړو غواړم چې ورور وژنه او د افغانانو وينه تويېدنه بنده کړي او په هېواد کې د تل پاتې سولې او امنيت د ټينګښت لپاره خپلې هڅې ګړندۍ کړي.» په ورته وخت کې د طالبانو او حکومت له لوري د تاوتريخوالي دوام د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړې د ماتېدو په تړاو هم اندېښنې راپارولې دي. پخواني طالب چارواکي د جګړو د دوام د سولې هوکړې عملي کېدو او بنديانو ازادېدو پر وړاندې تازه خنډونه بولي او وايي، چې وروستي اقدامات د سولې پروسه زيانمنولی شي. په ورته وخت کې ولسمشرۍ ماڼۍ وايي، چې د طالبانو لخوا په دې وروستيو کې د تاوتريخوالي زياتېدل د دې ښکارندويي کوي، چې خپلې کړې ژمنې شاته پرېږدي او د تاوتريخوالي پر زياتوالي يې تمرکز ډېر کړی دی.

## مايک پمپيو: حکومت او طالبان دې د پرونيو بريدونو عاملينو ته سزا ورکړي




۵ مخ

## کتاب


۴ مخ

### د يوويشتمې پېړۍ اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد




په کابل کې د ډاکټر نجيب د حکومت تر سقوط وروسته، چې د مجاهدينو ډلو په خپلو کې جګړې پيل کړې، ملا محمد عمر په کندهار کې و او بيا يې په ۱۹۹۴ ز کال کې د طالبانو مشر شو.

## سوداګرۍ وزارت: چين ته د جلغوزيو د صادراتو درېدلې لړۍ بېرته پيل شوه



د افغانستان سوداګرۍ او صنعت وزارت وايي، چې د کرونا ويروس چين ته د جلغوزيو د صادراتو درېدلې لړۍ بېرته پيل شوې ده.
د دغه وزارت د عامه اړيکو مسوولې سعديه سيرت ويلي، چې تېره ورځ يې چين د هوايي دهلېز له لارې يوه محموله چې ۱۱۰ ټنه وزن لري او له تېر کال څخه پاتې وه، لېږلې ده.
هغې زياته کړې چې تر راتلونکو څو ورځو پورې به د هوايي دهلېزونو له لارې د طبي بوټو صادرات هم پيل شي. دا په داسې حال کې ده چې په چين کې د کرونا ويروس له خپرېدو وروسته له دغه هېواد سره سوداګريزه راکړه ورکړه درېدلې وه.
د تېر لمريز کال په ليندۍ مياشت کې د چين او افغانستان ترمنځ د جلغوزيو د صادراتو تړون لاسليک شو. د دغه تړون پر بنسټ به په پنځو کلو کې د افغانستان د ۲.۲ ميلیارده ډالرو په ارزښت ٦٢ زره ټنه جلغوزې چين ته واستول شي.

## د بښنې نړيوال سازمان: د کابل او ننګرهار د جنايتونو له عاملينو سره دې جدي حساب وشي



د بښنې نړيوال سازمان د کابل او ننګرهار د تېرې ورځې بريدونه بې شرمه جنګي جرمونه بللي دي.
د دغه سازمان د سويلي اسيا برخې په خپله ټوېټر پاڼه ليکلي چې دا بريدونه بايد نړۍ د هغو وحشتونو پر وړاندې بيداره کړي چې ملکيان ورسره مخ دي.
ياد سازمان ويلي، د دغو لويو جنايتونو له عامليونو سره بايد حساب وشي او د ملکيانو ژوند دې خوندي شي.
بلخوا په کابل کې د امريکا د سفارت شارژدافير راس ويلسن په خپل ټوېټر پروني بريد وحشيانه بللی او ليکلي چې پر بې دفاع ملکيانو او روغتياپالانو دغه ترهګريز بريد په کلکه غندي.
د کاناډا سفير ډېو ميټکف هم پر خپل ټوېټر ليکلي چې په دې سختو شرايطو کې د بې ګناه ملکيانو، روغتياپالانو او ماشومانو هدف ګرځول يو بزدلانه عمل دی.
دا په داسې حال کې ده چې په کابل کې پر يوه سل بستريزه روغتون د تېرې ورځې په خونړي بريد کې ۱۴ ملکيان ووژل شول او ۱۵ نور ټپيان شول.
په ورته وخت کې په ننګرهار کې هم تېره ورځ د جنازې په مراسمو کې ځانمرګي بريد ۲۶ کسان مړه او ٦٨ نور کسان ټپيان کړل.
که څه هم د دغو بريدونو مسووليت ظاهراً داعش ډلې پر غاړه اخيستی او طالبانو پکښلاس لرل رد کړي، خو د ولسمشرۍ ماڼۍ لومړي مرستيال امرالله صالح ويلي: «دا په دوحه کې د هغو بدلو شويو طالبانو چلند دی چې د انسانيت کورسونه يې ويلي».




## دریـــځ

### وروستي وحشيانه بريدونه او مناسب ځواب

په کابل کې پر روغتون، په ننګرهار کې پر جنازه او په بلخ کې پر لمونځ کوونکو په بريدونو کې تر ٦٠ ډېر بې ګناه خلک شهيدان شوي او تر سلو ډېر ټپيان دي. په ننګرهار او کابل کې د وحشتونو مسووليت داعش اخيستی دی. تر دې وړاندې په لغمان او ځينو نورو سيمو کې هم خونړۍ پېښې شوې وې. دا د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې له هوکړې وروسته تر ټولو خونړي او وحشيانه بريدونه دي، چې پکې په قصدي ډول ملکي وګړي په نښه شوې دي. طالبانو د کابل او ننګرهار په بريدونو کې لاس لرل رد کړي، حکومت بيا په بلخ کې بريد منلی، خو وايي، طالبان مو وژلي او ولسمشر غني پرون ناوخته امنيتي ځواکونو ته امر کړی چې له دفاعي حالت څخه يرغليز حالت ته ووځي او پر طالبانو بريدونه وکړي.

د وحشت له دې نوې څپې سره څو ټکي ډېر مهم دي:

لومړی؛ دا چې افغانستان لا هم د وحشي او بې رحمه ځناورو او استخباراتي کړيو د سيالۍ ډګر دی. دوی د ښځو، ماشومانو او نورو بې ګناه وګړو په وژلو سره غواړي خپل وحشت، بربريت او ځناورتوب ثابت کړي. داعش اصلا يوازې نوم دی، چې کارول کېږي، دا اصلا د سيمې او نړۍ د سترو استخباراتي کړيو کثيفې او وحشيانه لوبې دي چې د دې وطن د بې دفاع ښځو، ماشومانو او بې ګناه وګړو پر سرونو يې کوي.

دويم؛ د امريکا او طالبانو د سولې هوکړې يوازې امريکايي ځواکونه او امريکايي ګټې خوندي کړې دي. افغان وژنه هماغسې روانه ده. دې هوکړې نه طالبان، نه امنيتي ځواکونه او نه هم افغانان خوندي کړل، بلکې يوازې امريکايي ځواکونه او د دوی ګټې يې خوندي کړې. له همدې امله اوس ښکاري چې دا هوکړه د امريکا له خوا د همدې لپاره طرحه شوې وه چې دوی خوندي شي، خو په افغانستان کې جګړه، وحشت او وژنې همداسې روانې وي.

درېيم؛ که افغانان يو د بل پر وړاندې همداسې له کرکې او نفرت څخه ډکې کړنې وکړي، يو بل ته لاسونه ور نه کړي، سوله ونه کړي او افغانستان ونه ژغوري، نو نه يوازې د ښکېلو اړخونو وژنې به همداسې روانې وي، بلکې د بې ګناه ښځو، ماشومان او آن ناروغانو ژوند به هم خوندي نه وي او د داعش تر نامه لاندې به وحشي استخباراتي کړۍ، همداسې وحشتونه کوي، پر جنازه، روغتون، جومات، ښوونځي او هر هغه ځای به بريد کوي چې هلته مسلمانان را ټوليږي.

څلورم؛ له بده مرغه لا هم دغو پېښو ته زموږ غبرګون احساساتي دی چې د دغو وحشتونو له مخنيوي سره مرسته نه کوي. تر هغو چې موږ د خپل ورور د وژنې او له امريکا او نورو پرديو سره د دوستۍ، ترونونو او ملګرۍ فکر او عمل ولرو، نه به وحشت ختم شي او نه به هم موږ د عزت او سرلوړۍ ژوند ولرو. د امريکا دوستي او د خپل ورور سره دښمني نه په تېره کې حکومت ته ګټه رسولې او نه به يې هم اوس طالبانو ته ورسوي. اوس پکار ده چې موږ سترګې پرانيزو، دغو وحشتونو ته مناسب غبرګون وښيو، نور د ستونزو د حل لپاره اساسي فکر او کار وکړو. موږ بايد د داعش او نورو په نومونو تېر نه وځو، ځکه واضح ده چې داعش د چا پروژه ده او موخه يې څه ده. ټول افغانان بايد درک کړي چې له امريکا سره ملګري، ترون او همکاري يوازې وحشت او جنايت زياتوي او ټول افغانان بايد نور يو له بل سره له دښمنۍ لاس واخلو او په خپلو کې ټولې دښمنۍ ختمې کړو او خپل اصلي دښمن ته مخ کړو.

# د افغان سولې وروستي انکشافات او راتلونکی پس منظر

لیکنه: د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز

د ۲۰۲۰ ز کال د فبرورۍ په ۲۹ مه د امريکا او طالبانو ترمنځ د هوکړې پر اساس د بين الافغاني خبرو اترو پيل د افغان سولې پر لور اړين ګام دی، خو د افغانانو ترمنځ د خبرو د پيل لپاره، امريکايي لوري طالبانو ته وعده ورکړې وه چې دوی به د افغان حکومت له زندانونو څخه د طالبان پنځهزره زندانيان آزادوي. طالبانو ته د بنديانو آزادېدل د بين الافغاني خبرو اترو د پيل لپاره اړين شرط دی. په دې توګه، افغان حکومت ته چې اصلاً يې په خبرو اترو کې ګډون نه درلود، د بنديانو د آزادۍ مکلفيت راجع دی. د دغه تعهد په غبرګون کې ولسمشر محمد اشرف غني د زندانيانو د خلاصون موضوع رد کړه او دا يې د افغان حکومت صلاحيت وګاڼه. د دې ترڅنګ، د ولسمشريزو ټاکنو د پايلو پر سر د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله ترمنځ ناندرۍ راپورته شوې چې له امله يې له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره د يوه ټول شموله پلاوي د رامنځ ته کېدو مخه ونيول شوه.

د بنديانو د آزادۍ د مسئلې او د سياسي کړکېچن حالت تر څنګ، د کرونا نړيوالې وبا وضعيت نور هم ستونزمن کړ. امريکا د کرونا ويروس د خپرېدو له کبله پر خپل ځان اخته شوه او د سولې په اړه يې مخکېنی چټک حرکت پخ او سست شو. د کرونا ويروس له کبله پر افغان حکومت هم، د بنديانو د خلاصون، د ټول شموله حکومت د جوړولو او د افغاني پلاوي د ټاکلو په اړه نړيوال فشارونه کم شول. په دې توګه افغان حکومت د سولې په اړه د استراحت چانس لاس ته راوړ. په لنډه توګه ويلای شو چې د امريکا او طالبانو ترمنځ د ترون په چوکاټ کې د بين الافغاني خبرو اترو د پيل او افغانستان ته د سولې د راوستو پر وړاندې درې لوی خنډونه پراته دي؛ د بنديانو د خلاصون مسئله او او ورسره د جګړې او تاوتريخوالي زياتېدل، د ولسمشريزو ټاکنو د پايلو پر سر ناندرۍ او د يوه منسجم او ټول شموله مذاکراتي ټيم نه رامنځ ته کېدل، او بالاخره د کرونا د نړيوالې وبا له کبله ټول مهم سياسي تحرکات او پلانونه دويمې درجې ته رالوېدل. دا درې واړه خنډونه له يوه بل سره تړلي چې لاندې به په تفصيل سره پرې بحث وکړو:

د بنديانو د ازادۍ مسئله او د تاوتريخوالي زياتېدل

کله چې افغان حکومت د بنديانو د خلاصون پر وړاندې خنډونه را ولاړ کړل، نو طالبانو بېرته خپل نظامي عمليات پراخ او ګړندي کړل. په دې توګه د اورکم لنډه مرحله پای ته ورسېده او د تاوتريخوالي کچه لوړه شوه.

طالبانو د هېواد په مختلفو ولايتونو کې پر حکومتي نظامي مرکزونو بريدونه ډېرکړل چې په پايله کې په لس ګونو سرتېري او عام وګړي ووژل شول. بهرنيو ځواکونو هم له افغان حکومت څخه د ملاتړ په پار متقابلې حملې وکړې او په پايله کې دواړو لورو يو بل د لاسليک شوي ترون پر نقض متهم کړل. طالبان د خپل موقف څخه د دفاع لپاره د امريکايي لوري لخوا د پنځو زرو طالب زندانيانو د وعدې پر نه عملي کېدو استدلال کوي او دا هم زياتوي چې د شوې هوکړې له مخې د طالبانو له خوا د تاوتريخوالي د کموالي تعهد نه دی شوی.

بلخوا امريکايان مجبور شول چې د بېلانس ساتلو په خاطر، له طالبانو سره د سولې له هوکړه ليک سره سم، د محمد اشرف غني د تحليف په مراسمو کې هم ګډون وکړي. د دې ګډون په پايله کې د عبدالله عبدالله په مقابل کې د محمد اشرف غني تله درنه شوه، خو تر څنګ يې په همدې مراسمو کې د ۱۵ سوو طالب بنديانو مشروطه آزادي ومنله او د نورو بنديانو خلاصون يې د بين الافغاني مذاکراتو په پيل پورې مشروط کړ. طالبانو د بنديانو پر ازادۍ هر ډول شرط اېښودل د هوکړه ليک سره په ټکر کې وګڼل او دا وړانديز يې رد کړ. بالاخره د نړيوالو فشارونو له کبله دواړو لوريو د يو او بل په سلګونو زندانيان ازاد کړل، خو د پاتې کسانو د ازادۍ پروسه ډېره ستونزمنه ښکاري.

دا هم ويل کېدای شي چې د بنديانو د ازادۍ لپاره هېڅ واضح او روښانه دريځ او تګلورۍ نه دی معلوم. د دغه کار لوی دليل دا دی چې د طالبانو او امريکا ترمنځ شوی ترون د بنديانو د خلاصولو مکلفيت يوه درېيم لوري ته ( افغان حکومت ته)، چې د ترون طرف نه دی، پر غاړه ور اچوي او دا د ستونزې بنياد تشکيلوي. د بنديانو د خلاصون موضوع که همداسې ستونزمنه پاتې شي، نو د بين‌الافغاني مذاکراتو د پيل خبره لاپسې ځنډېږي او تر هغو به جګړه نور هم زور واخلي.

د بنديانو په خلاصون کې د ځنډ او د تاوتريخوالي د زياتېدو له کبله د امريکا او طالبانو ترمنځ د شوي ترون د کامل نقض او له مينځه تلو وېره شته، خو تر څنګ يې دواړه لوري کوښښ کوي چې د لازم احتياط په نظر کې نيولو سره د ترون د ناکامېدو مخه ونيسي. کله چې ملا برادر په خپل پيغام کې امريکا د تعهد پر ماتولو او پر ملکي وګړو د هوايي بريدونو پر زياتولو متهمه کړه، نو امريکايي نظامي او ملکي پلاوي، د ترون د نجات په خاطر، يو ځل بيا په قطر کې د طالبانو د پلاوي سره وکتل. په دې کتنه کې يو ځل بيا د ترون د کامل تطبيق، د بنديانو پر خلاصولو او د تاوتريخوالي پر کمولو ټينګار وشو.

د ولسمشريزو ټاکنو پر سر ناندرۍ او ټول شموله مذاکراتي ټيم

بله جنجالي مسئله د ولسمشريزو ټاکنو د پايلو پر سر د ناندريو له کبله د يوه قوي ا و ټول شموله مذاکراتي ټيم د نه جوړېدو موضوع ده. له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره د مذاکراتي ډلې د ترکيب او څرنګوالي پر سر اختلاف يو اوږد پس منظر لري. افغان حکومت نه غواړي داسې يوه ډله طالبانو سره پر مېز کېني چې د حکومت له کنټرول څخه بهر وي. په دې اړه حکومت د نورو سياسيونو هر ډول هڅه غير مشروع ګڼلې او دوی يې د افغان حکومت د موقف پر کمزورې کولو متهم کړي دي. د حکومت او له حکومت څخه بهر سياسيونو ترمنځ د مذاکراتي ډلې پر تشکيل او صلاحيتونو د اختلاف موضوع د ولسمشريزو ټاکنو د پايلو د اعلان څخه وروسته نوره هم پېچلې او ستونزمنه شوه. چې بالاخره امريکا په افغانستان کې د ولسمشرۍ څوکۍ پر سر د اختلاف د ختمولو او د يوه ټول شموله حکومت د رامنځ ته کولو په خاطر د فشار په توګه خپل يو ميليارد ډالر وعده شوې مرسته وځنډوله. د دې تر څنګ امريکا او اروپايي ټولنې افغان لورې پر دې هم متهم کړ چې د سولې پر وړاندې جدي نه دی، نو ځکه يې خپل مذاکراتي ټيم نه دی ټاکلی.

د بهرنيو فشارونو له کبله افغان حکومت د مذاکراتي ټيم نومونه اعلان کړل. نړيوالو که څه هم دا نيک اقدام وګاڼه، خو په کور د ننه د ټيم د غړو په اړه سياسيون او د ټولنې نور وګړي معترض پاتې شول. دليل دا و چې په مذاکراتي ټيم کې طالبانو سره د خبرو اترو لپاره جوګه نومونه ډېر کم او کابو ټول غړي د شخصي روابطو پر اساس ټاکل شوي او د حکومت د تر کامل کنټرول لاندې خلک دي. طالبانو هم له ياد لېست سره مخالفت وکړ، د دغه لېست د غړو سره يې د مذاکراتو خبره رد کړه او له يوه ټول شموله مذاکراتي ټيم سره پر خبرو کولو يې يو ځل بيا ټينګار وکړ.

په لنډه توګه ويل کېدای شي چې افغان حکومت لاهم د شته وضعيت دوام ته د سولې په نسبت ترجيح ورکوي. د سولې په اړه د حکومت دا منفعت پرستانه موقف کېدای شي د دې سبب شي چې شته فرصت له لاسه ولاړ شي او په وطن کی د جګړې اور همداسې بل پاتې شي. په ظاهره خو داسې ښکاري چې د امريکا حکومت او طالبان غواړي د ترون د ناکامېدو مخه ونيسي، خو افغان حکومت او ځينې سياسي لوري بيا د ترون په اړه د مسووليت احساس نه کوي او داسې ښکاري چې د ناکامېدو په اړه يې هېڅ تشويش هم نه لري.

د کرونا نړيواله وبا او د سولې پر هڅو يې اغېز

کله چې کرونا د امريکا لوی ښارونه تر خپل بريد لاندې ونيول، نو د امريکايي حکومت ټولې هڅې د دې وبا کابو کولو ته واوښتې. نړيوال سياست او ميډيا خپله ټوله پاملرنه کرونا او له کرونا وروسته احتمالي سياسي او اقتصادي پايلو ته واړوله. د افغانستان په داخل کې هم د کرونا د خپرېدو له کبله لومړيتوبونه بدل شول او د هر چا پام همدې ستونزې ته شو. نتيجه دا شوه چې د سولې هڅې خپل پخوانی ګرموالی له لاسه ورکړې او سړې شي. کله چې امريکايان او افغان ملت ټول له کرونا سره د مبارزې لپاره په تشويش کې شول، نو پر حکومت د فشار ټول چينلونه ضعيف شول. په دې توګه د ولسمشريزو ټاکنو پر سر د ناندريو موضوع همداسې دومداره پاتې شوه، د بنديانو د خلاصون موضوع سسته شوه او د بين الافغاني مذاکراتو د پيل خبره نامعلوم وخت ته وځنډېده. داسې ښکاري چې د کرونا وبا مسئله به ژر ختمه نه شي او معلومه نه ده چې څه وخت به امريکا، افغان ملت او حکومت بېرته خپلو پخوانيو لومړيتوبونو ته راګرځي؟ دغو خنډونو ته په کتو، د افغان سولې راتلونکی چندان روښانه نه ښکاري. قوي احتمال همدا دی چې تر ډېره وخت به افغان ولس د سولې نه محروم او جګړه به همداسې روانه وي.

# د روغتيا نړيواله سازمان خبرداری؛

## د وضع شويو محدوديتونو له لرې کېدو سره سم، د کرونا ويروس مثبتې پېښې ډېرې شوې



په داسې حال کې چې په نړۍ کې د کرونا ويروس له کبله وضع شوي محدوديتونه په کمېدو دي، خو د روغتيا نړيوال سازمان خبرداری ورکړی چې دغو اقداماتو د ياد ويروس پېښې زياتې کړې دي.

دغه سازمان ويلي، هغو هېوادونو چې د کووېډ-۱۹ له کبله وضع شوي جدي محدوديتونه يې کم کړي، د کرونا ويروس مثبت پېښې پکې زياتې شوې دي.

د دغه سازمان په خبره چې د کرونا د خپرېدو د مخنيوي لپاره لګول شوي محدوديتونه بايد ډېر په احتياط کم شي.

دا په داسې حال کې ده چې يو شمېر هېوادونو د دې اونۍ په اوږدو کې محدوديتونه کم کړي، خو د روغتيا نړيوال سازمان چارواکي وايي، دغو اقداماتو د کرونا ويروس پېښې زياتې کړې دي. جرمني او جنوبي کوريا هغه دوه هېوادونه چې په دې وروستيو ورځو کې پکې په کرونا د نويو اخته شويو کسانو شمېر د پخوا په پرتله زيات شوی دی.

د روغتيا د نړيوال سازمان د بېړنيو پروګرامونو رييس مايک راين ويلي چې تر اوسه د کرونا ويروس د دويمې خپرېدونکې څپې ګواښ پرځای دی او هېوادونه دې په دې برخه کې له ډېر احتياطه کار واخلي.

هغه زياته کړې: «که ناروغي په ځينو هېوادونو کې په کمه کچه پاتې شي او په اړه‌يې څېړنه ونه‌شي، تل دا خطر شته چې دا ويروس به يو ځل بيا راپورته شي.»

د روغتيا نړيوال سازمان دا خبرداری داسې مهال دی چې کرونا ويروس لا هم په ډېرې چټکۍ سره په ټوله نړۍ کې د خپرېدو په حال کې دی. د تازه شمېرو له مخې، د دغه ويروس له کبله په ټوله نړۍ کې د مثبتو پېښو شمېر له ۴.۳ ميليونو واوښت.

د دغو شمېرو پر بنسټ کرونا ويروس تر دې دمه۲۹۰ زره او ۵۹۷ کسان مړه کړي او له ۱.۵ ميليونو زياته کسان ترې بېرته رغېدلي دي.

امريکا لاهم د کرونا د مثبتو پېښو او د دغه ويروس د قربانيانو له پلوه په ټوله نړۍ کې مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د کووېډ- ۱۹ ناروغۍ له کبله تر دې دمه ۸۲ زره او ۵۵۵ تنه مړه شوي او نږدې ۱.۴ ميليونه کسان پرې اخته شوي دي.

له امريکا وروسته برېټانيا د ۳۲ زره او ٦۹۲ مړو او ۲۲٦ زره او ۴٦۳ مثبتو پېښو په درلودو سره دويم، ايټاليا د ۳۰ زره او ۹۱۱ مړو او ۲۲۱ زره او ۲۱٦ مثبتو پېښو له کبله درېيم، اسپانيا د ۲٦ زره او ۹۲۰ مړو او ۲٦۹ زره او ۵۲۰ مثبتو پېښو په درلودو سره څلورم او فرانسه د ۲٦ زره او ٦۴۳ مړو او ۱۷۷ زره او ۴۲۳ مثبتو پېښو په درلودو پنځم، هغه هېوادونه دي چې د ياد ويروس له کبله زياته اغېزمن شوي دي. جرمني، روسيه، برازيل، ايران او ترکيه په ترتيب سره، شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هېوادونه دي چې د ياد ويروس له کبله تر ټولو ډېرې مثبت پېښې او قربانيان لري.

د روغتيا نړيوال سازمان ياد چارواکي ويلي، د محدوديتونو له لرې کېدو وروسته يو څه هيله‌مندي پيدا شوې، خو دا په دې مانان نه ده چې خطر په يو مخ له منځه تللی دی.

# په انساني ټولنو کې د وبايي ناروغيو تاريخ



لیکوال: شفيق اميرزی

د بشريت تاريخ له ډېرو لوړو ژورو ډک دی. له جنګ جګړو نیولې تر کډوالۍ، اقليمي بدلون او وبايي ناروغيو، دې هر څه د انسان پر ژوند اغېز لرلی دی. کرونا يا کووېډ- ۱۹ لومړنۍ ناروغي نه ده چې په نړۍ کې يې ژوند له ګواښ سره مخ کړی، بلکې انساني تاريخ څو ځله د داسې وبايي ناروغيو شاهد دی. داسې ناروغۍ چې بشري، فرهنګي، اقتصادي او سياسي زيانونه يې حيرانوونکي او د نه منلو وو. په ۲۱مه پېړۍ کې ګڼې وبايي ناروغۍ په انساني ټولنو کې پيل شوې. انفلونزا او اوس کووېډ۱۹- هغه ناروغۍ وې چې د ټولو پام يې ځان ته اړولی دی او انسانان يې د کابو کولو هڅه کوي. په دې برخه کې په انساني ټولنو کې د لګېدلو وبايي ناروغيو پر لنډ تاريخ، اغېز او پايلو خبرې کوو.

**COVID-19 - (کووېډ- ۱۹)**

کرونا يا کووېډ روانه ساري ناروغي ده. کرونا ويروس د ۲۰۱۹ز کال په ډسمبر کې د چين په ووهان کې خپور شو. د روغتيا نړيوال سازمان پر دغه ويروس وروسته کووېډ۱۹- نوم کېښود. کووېډ- ۱۹ د (Corona vi-rus disease of 2019) لنډيز دی. د کرونا ويروس تر ټولو ستره ځانګړنه دا ده چې په پوره چټکتيا خپرېږي. د خلکو ترمنځ په خورا سرعت له يوه کس بل ته لېږدول کېږي او تر ډېرو ورځو پورې ناروغ کس نه پوهېږي چې په کرونا اخته شوی دی. په لومړي سر کې دغه ناروغي په چين کې خپره شوه خو د روغتيا نړيوال سازمان هغه ټولنيوونکې و نه بلله. يوازې په يوه مياشت کې د کرونا ويروس پېښې د نړۍ په څو هېوادونو کې ثبت شوې. د مارچ مياشتې په لومړيو کې د روغتيا نړيوال سازمان کرونا ويروس يوه ټولنيوونکې ناروغي و بلله. د مياشتې په وروستيو ورځو کې تر نيم ميليون خلک په دغه ناروغۍ اخته شول. اوس په دغه ناروغۍ تر يو ميليون ډېر خلک اخته دي. نږدې شپېته زره خلک يې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې وژلي دي.

ددغه ناروغۍ پراختيا د نړۍ په کچه د بشريت د اخته کېدو خبرداری ورکړ او حکومتونو خپل تدابير پیاوړي کړل. حکومتونو د ټولنيزې فاصلې په نامه خلکو ته له يو بل د لرې کېدو سپارښتنه وکړه، دوی ته يې وويل چې په کورونو کې پاتې شي، ګڼ اقدامات ترسره شول، ښوونځي وتړل شول، سوداګري په ټپه ودرېده، سفرونه بند شول، په واکسينو جوړولو کار پيل شو او د خطرونو د کمولو لپاره هڅې پيل شوې. تر دې دمه ددغه ناروغۍ د مخنيوي او تداوۍ لپاره هېڅ راز دارو درمل نه دي جوړ شوي، خو يوازې هغه کسان ترې خوندي دي چې د بدن مقاومت يې لوړ وي او يا له خلکو سره راشه درشه په ټوله مانا بنده کړي.

**-Plague of Justinian**

**- جوستېنين طاعون**

جوستېنين طاعون د وبايي يا ټولنيوونکو ناروغيو په کتار کې تر ټولو خونړۍ ناروغي بلل کېږي. تر دې ښايي ډېرې تباه کوونکې ناروغۍ تېرې شوې دي خو ددغه ناروغۍ په اړه معلومات تاريخ خوندي کړي دي. اروپايي ليکوال ويليام روزن د طاعون په اړه په خپل يوه کتاب کې ليکلي چې دغه ناروغۍ دوه پېړۍ دوام وکړ او له ۲۵ تر ۱۰۰ ميليونه پورې خلک يې ووژل[1]. ډېری په دې باور دي چې دغه ناروغۍ پنځه ويشت ميليونه خلک ووژل. خو دا چې هغه وخت د خبرنو او شمېرنو امکانات په نړۍ کې نه و، تاريخپوهان په دې باور دي چې ددغه ناروغۍ بشري تلفات خورا ډېر وو. ددوی په باور دغه ناروغۍ هغه وخت د نړۍ له ۱۳تر ۲۶ سلنې نفوس له منځه يووړ.

جوستېنين طاعون د شرقي روم د امپراتورۍ په مرکز او د ساساني امپراتورۍ په هغو ښارونو کې پيل شو چې بندرونو ته نيږدې وو او يا سوداګريز بندرونه پکې ډېر و. له همدې ځايه ډېری اروپايي هېوادونو ته خور شو او تر دوو پېړيو پورې يې انساني تولنې وځپلې. داسې اټکل کېږي چې دغه ناروغۍ به د خپل پيل په لومړيو کې هره ورځ پنځه زره نفر مړه کول. يوازې په ۱۲ مياشتو کې يې د اروپا نفوس نيمايي کړ. د قسطنطنيې يا شرقي روم د امپراتورۍ د مرکز ۴۰ سلنه وګړي ددغه ناروغۍ له امله مړه شول. جوستېين طاعون د ۵۴۱ او ۵۴۲ ز کالونو ترمنځ پيل شو او تر ۷۵۰ز پورې يې دوام درلود.

**Black Death تور مرګ- تور طاعون**

دا د بشر په تاريخ کې تر ټولو خونړۍ ټولنيوونکې ناروغي ګڼل کېږي. دا په نړۍ کې تر جوستېين طاعون وروسته دويمه ستره وبايي ناروغي ده، خو د تلفاتو او پراختيا له اړخه د نړۍ تر ټولو د ډېرو تلفاتو اړوونکې ده. دې ناروغۍ د بشريت په تاريخ کې انسانانو ته ډېر تلفات اړولي دي. ددې ناروغۍ اصلي مرکز چين ګڼل کېده، چې له دې ځايه بيا د وربښمو لارې پر مټ د اسيا او اروپا نورو هېوادونو ته خوره شوه. په ۲۰۱۷ کال کې يوه څېړنه ښيي چې دا ناروغي د ۱۳۳۸ او ۱۳۳۹ز کلونو ترمنځ د منګولیايانو د امپراتورۍ پر مهال په چين کې خپره شوه. دغه ناروغۍ انسانانو ته درانه تلفات واړول، قحطي يې راوسته، تمدن، فرهنګ او سوداګرۍ ته يې سخته ضربه ورسوله. تور مرګی يا تور طاعون به چې هر ښار کې خپور شو له اتو تر نهو مياشتو يې په هغه ښار کې تباهۍ ته ادامه ورکوله. په دې ناروغۍ د ۶۰ تر ۸۰ سلنه اخته کسانو د مرګ امکان و. ويل کېږي چې دې ناروغۍ د اروپا د نفوس له دريبو برخو يوه يې له منځه يوړه. خو داسې ښارونه او سيمې هم وې چې دا ناروغي له سره پکې خپره نه وه. ويل کېږي چې دې ناروغۍ په اروپا کې له ۷۵ تر ۲۰۰ ميليونه پورې خلک مړه کړل[2]. د پوهانو په باور ۲۰۰ کاله يې وخت ونيو چې اروپايي هېوادونو بېرته ددغه ويروس له امله رامنځ ته شوې تشې ډکې کړي.

**Spanish flu - هسپانوي انفلونزا**

هسپانوي انفلونزا په ۱۹۱۸ز کال کې خپره شوه. دا هغه مهال و چې لومړۍ نړيواله جګړه پای ته رسېدلې وه. دا هم د نړۍ تر ټولو ډېره وژونکې او ټولنيوونکې ناروغي ګڼل کېږي. دغه ناروغۍ په اسپانيا، اسيا، اروپا، امريکا، شمالي امريکا او ان شمالي قطب او د ارام سمندرګي په ځينو برخو کې پراختيا وموندله او خلک يې ووژل. ويل کېږي چې نيم ميليارد وګړي په ټوله نړۍ کې په دغه ناروغۍ اخته شول چې له دې ډلې يې له ۲۰ تر ۵۰ ميليونو پورې انسانان مړه کړل[3]. دغه ناروغۍ له ۱۹۱۸ز کال د ۱۹۲۰ز کال تر ډسمبر پورې ادامه پيدا کړه. د ناروغۍ تر ډېره ځوانان او د پاخه عمر درلودونکي وژل. د پراختيا سرعت يې ډېر و. تر ټولو ډېر خلک يې په اروپا، چين او امريکا کې ووژل. د نړۍ په تاريخي او فرهنګي تاريخ کې ددې بشري فاجعې پر منفي اغېز هم خورا ډېرې ليکنې شوې او مقالې خپرې شوې دي.

**Asian flu - اسيايي انفلونزا**

اسيايي انفلونزا په ۱۹۵۶ز کال کې په چين، سنګاپور او هانګ کانګ کې پيل شوه. په چټکۍ تر اروپا او امريکا ورسېده. ويل کېږي چې دغه ناروغۍ په يادو هېوادونو کې تر دوو ميليونو پورې خلک ووژل چې له دې ډلې يوازې ۷۰ زره يې امريکايان وو. څېړنې ښيي چې تر ۱۹۵۸ز پورې په ټوله نړۍ کې تر ۲۵۰ ميليونه پورې خلک په دغه ناروغۍ اخته شول. دغه ويروس له مرغانو انسانانو ته لېږدېدلی و.

**HIV- ايډز**

اچ ای وي په نړۍ کې د ايډز ناروغۍ لېږدونکی ويروس دی. دغه ويروس په لومړي سر کې په ۱۹۷۶ز کال کې په يوه افريقايي هېواد کنګو کې وليدل شو. دغه ويروس ورو ورو پراختيا کوله او ويل کېږي چې له ۱۹۸۱ز کال راهيسې تر نن پورې يې تر ۳۶ ميليونه پورې خلک وژلي دي. دغه ويروس لا هم شته دی خو په ډېری شتمنو هېوادونو کې يې درملنه پيدا شوې ده او خلک کولی شي خپله درملنه وکړي. ويل کېږي چې دمګړۍ هم په نړۍ کې تر ۳۸ ميليونه پورې خلک په اچ ای وي اخته دي. خو په طب او روغتيايي برخه کې پرمختګونه ددې سبب شوي چې ددغه ناروغۍ له امله مړينه راکمه شي او ژوند ته د ناروغانو تمې ډېرې شي.

ددغه ويروس په اړه د نړۍ په کچه پراخ تحقيقات شوي دي. ويل کېږي چې په لومړي سر کې دغه ويروس له بيزوګانو انسانو ته راغلی دی او بيا د انسانانو ترمنځ په تېره په افريقايي هېوادونو کې ډېر خپور شوی دی. د لېږد تر ټولو ډېرې پېښې يې له جنسي اړيکو څېتېږي خو تر څنګ يې د وينې او نورو موادو له لارې هم لېږد شونی دی. ددغه ويروس د پراختيا د اوج کلونه د ۲۰۰۵ او ۲۰۱۲ ترمنځ وو.

**- Influenza A virus subtype H1N1 خوګي انفلونزا**

خوګي انفلونزا هم د شلمې پېړۍ له خورا وژونکو عفوني ناروغيو ده. دې ناروغۍ په وروستيو لسيزو کې د تر ټولو ډېرو انسانو ژوند اخيستی دی. دغه ويروس په ۲۰۰۱ز کال کې له ميکزيک خپور شو او تر ۲۰۰۹ز کال پورې يې ادامه پيدا کړه. په ۲۰۱۱ز کال کې د پوهانو يوه څېړنه ښيي چې د ټولۍ له نفوس له ۱۱ تر ۲۱ سلنې پورې وګړي په دغه ويروس اخته شوي دي. د روغتيا نړيوال سازمان وايي چې ددغه ويروس له امله د نړۍ په کچه تر ۲۸۴زره او ۵۰۰ کسان مړه شوي دي. د دغه ويروس د مړينې کچه يو سلنه وه، خو تر ډېره يې هغه کسان وژل چې د بډوډو، سږو او زړه په ناروغيو اخته وو.

له دې ټولو سره سره کرونا ويروس دمګړۍ زموږ د عصر تر ټولو خطرناکه ناروغي ده. دغه ناروغي تر ډېره په امريکا کې د پراختيا په حال کې ده. چين د دې ناروغۍ مرکز و، خو هلته يې تلفات او مثبتې پېښې ډېرې نه وې. کرونا تر ټولو ډېر خلک په امريکا کې مړه کړي دي. همد راز تر امريکا وروسته، برېټانيا، ايټاليا، اسپانيا، جرمني او روسيه هغه هېوادونه چې د دغه ويروس له کبله پکې ډېر کسان مړه شوي او ډېرې مثبت پېښې هم په همدغو هېوادونو کې ثبت شوې دي.

نړيوال په دې باور دي چې کرونا ويروس به د نړۍ اوسني تمدن، فرهنګ، سياسي او اقتصادي وضعيت ته سخته ضربه ورسوي. دوی وايي، چې د نړۍ ستر صنعت (سياحت) به د اوږدې مودې لپاره په ټپه ودرېږي او خلک به له راشه درشو ډډه کوي. سوداګري به زيانمنه شي او ښايي بشريت په روغتيايي برخه کې د موادو، وسايلو او دارو درملو له کمښت سره مخ شي.

په افغانستان کې هم دغه ناروغي د چټکې پراختيا په حال کې ده. سره له دې چې نړيوال بانک له افغانستان سره د دغه ناروغۍ په مخنيوي کې د سلګونو ميليونو ډالري مرستې ژمنه کړې، خو افغان حکومت په خپلو سياسي ناندريو بوخت دی او دغه بشري افت ته يې پاملرنه کمه ده. د افغانستان ګاونډي هېواد ايران د مثبتو پېښو او مړينې لوړې شمېرې لري، چې دلته هم کرونا ويروس له دغه هېواد راغلی دی. خو له بده مرغه لا هم له دغه هېواد سره پولې پرانيستې دي او ددې امکان شته چې کرونا ويروس په افغنستان کې نور هم خپور شي او د خلکو ژوند له خطر سره مخ کړي.

# د جګړو او وحشت دوام؛

## ځانمرګو بريدونو په کابل او ننګرهار کې ۱۲۳ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واړوله





تر اوږدې ارامتيا وروسته په وروستيو څو ورځو کې په هېواد کې خونړيو بريدونو او نښتو يو ځل بيا زور اخيستی دی. په وروستيو ورځو کې په بلخ، ننګرهار، لغمان، خوست، کابل او ځينو نورو ولايتونو کې خونړيو نښتو ملکي وګړو او افغان سرتېرو ته مرګ ژوبله اړولې ده. پرون په تېرو څو مياشتو کې تر ټولو خونړۍ ورځ وه. په ننګرهار، کابل، بلخ او خوست کې ملکي وګړي ووژل شول. په ننګرهار او کابل کې ځانمرګو بريدونو او په بلخ کې بيا هوايي بريد ناورين رامنځ ته کړ. ولسمشر غني د همدې خونړيو پېښو په غبرګون کې افغان پوځ ته د تهاجمي بريدونو امر وکړ او په نړيواله کچه هم پر دغو بريدونو غبرګونونه راوپارېدل.

پرون په کابل کې خونړۍ روژه وه. شاوخوا لس بجې د کابل ښار په دشت برچي سيمه کې وسله والو ځانمرګو د ولادي نسايي پر يوه روغتون بريد وکړ. لومړی چاودنه وشوه او وروسته بيا وسله وال روغتون ته ننوتل او په نښته يې پيل وکړ. جګړه تر پنځه ساعته نښتې وروسته پای ته ورسېده. د وروستيو معلوماتو له مخې، په پېښه کې د دوو نوو زېږېدلو ماشومانو په ګډون ۱۴ کسه وژل شوي، ۱۵ ټپيان دي او د دريو بهرنيانو په ګډون سل کسه له دغه بريد ژغورل شوي دي. د راپورونو له مخې، داعش ډلې د دغه بريد مسووليت منلی دی.

له دې سره څو ساعته په توپير د ننګرهار ولايت په ښېوې ولسوالۍ کې د جنازې په مراسمو کې چاودنه وشوه. راپورونه وايي چې دا هم يو ځانمرګی بريد و او ملکي وګړو ته يې سخت تلفات اړولي دي. د ننګرهار ولايت ځايي چارواکي وايي چې په پېښه کې ۲۶ کسان وژل شوي او ۶۸ نور ټپيان دي. د دغه بريد مسووليت کومې ډلې نه دی منلی. په وژل شوو کسانو کې د ننګرهار د ولايتي شورا يو غړی او په ټپيانو کې بيا په ولسي جرګه کې د دغه ولايت يو استازی هم شامل دی.

په بلخ کې بيا ورمه شپه افغان هوايي ځواکونو بريدونه کړي چې ملکي وګړو ته پکې مرګ ژوبله اوښتې ده. پرون د بلخ ولايت د بلخ ولسوالۍ اوسېدونکو د خپلو وژل شوو جسدونه يوې څلورلارې ته راوړي وو او لاريون يې کړی و. دوی ادعا کوي چې په پېښه کې ۹ کسه ملکيان وژل شوي او ۱۱ نور ټپيان دي. افغان حکومت بيا وايي چې دوی ملکيان نه، بلکې وسله وال طالبان په نښه کړي چې د سړک د ويجاړولو او پر افغان ځواکونو د بريدونو لپاره راوتلي وو.

دغه پېښې په نړيواله کچه غندل شوې دي. په افغانستان کې د ناټو ملکي استازي نېکولاس کې په ننګرهار او کابل کې پر ملکي وګړو بريدونه په کلکو ټکو غندلي او دا يې ستر جنايت بللی دی. همدا راز د ښځينې نړيوال سازمان هم دغه پېښې بشري جنايت بللی دی او په خبره يې، د پېښې له عاملينو سره بايد حساب کتاب وشي.

پخواني ولسمشر هم په يوه اعلاميه کې په ننګرهار، کابل او بلخ کې وروستي بريدونه غندلي دي. د ده په خبره، د سولې د روانو هڅو پر وړاندې د جګړې دوام د پرديو دسيسه ده او دوی نه غواړي هېواد ته دايمي ثبات راشي. ښاغلي کرزي په کابل او ننګرهار کې پر عام وګړو وروستي بريدونه هم بشري ضد جنايت بللی او په خبره يې، د دغه ډول وحشتونو لړۍ په کلکو ټکو غندي.


ولسمشر غني بيا پر افغان ځواکونو غږ کړی چې له دفاعي حالت راووځي او تعرضي حالت خپل کړي. د ده په خبره، د افغانستان د خلکو دښمنانو په دې وروستيو کې د سولې پر ځای جګړې شديدې کړې او لا هم هره ورځ عام وګړي وژني. نوموړي پر امنيتي ځواکونو غږ کړی چې په ننګرهار او کابل کې د وروستيو پېښو عاملين ونيسي او پر وړاندې يې دې عمليات وکړي. هغه وويل، په ځلونو يې له طالبانو د مخامخ خبرو او سولې غوښتنه کړې، خو دغه ډله پر جګړه ټينګار کوي، نو افغان امنيتي ځواکونه يې دې پر وړاندې خپل اقدامات پيل کړي.

## د کتــاب خبــرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### لومړۍ برخه
### د راتلونکي واگې په لاس کې واخله!
### څلورم څپرکی




**بېل کونجونه، بېل پانگوال**

که څه هم موږ ته په ښوونځي کې د پانگونې په اړه هېڅ زده کړه نه راکول کېږي؛ خو په نننۍ نړۍ کې موږ ټول باید پانگوال واوسو.

کلونه وړاندې مې شتمن پلار راته ویل چې زیات خلک په مشترکه یا د سپما په پانگونه کې پانگونه کوي. ده به دا هم ویل:((که د S، E یا B په یوه کونج کې بریالی یې، نو دا په دې مانا نه ده چې ته یو ښه پانگوال یې. په پانگونه کې ډاکټران ډېر وخت تاواني کېږي.))

زما شتمن پلار ما ته ښودلې چې د هر کونج اوسېدونکي د پانگونې لپاره بېلې لارې لري. مثلاً، هغه څوک چې د S په کونج کې ژوند کوي، یانې خپل ازاد کار کوي، هغوی ښایي ووایي:«زه پر ملکیتونو پانگونه نه کوم، ځکه نه غواړم چې د خلکو تشنابونه جوړ کړم.»

که شتمنېدل غواړئ، نو حرکت وکړئ. د دندې بدلولو اړتیا نشته، بلکې د پیسو پیدا کولو «ادرس» مو بدل کړئ.

بېلابېل خلک بېلابېل ذهنیتونه لري. بېل کونجونه او بېل ارزښتونه لري. تاسو باید زما په هدف پوه شئ چې زه څه وایم. خبره ډېره ساده ده. که غواړئ شتمن شئ، نو حرکت وکړئ. د دندې بدلولو ته اړتیا نشته، بلکې د پیسو گټلو ادرس مو بدل کړئ.

که غواړې د خپل ژوند او برخلیک واک ترلاسه کړې. که داسې رښتینې ازادي غواړې چې پرېکړه کوونکی ته یې، ورځني کارونه ته مشخصوې، د ځان او کورنۍ لپاره وخت ولرې، د خوښې وړ کارونه دې وکړې، خپل جوړ شوي ژوند ته دې ادامه ورکړې، ښه او اغېزناک ژوند ولرې او بلاخره که غواړې شتمن شې او شتمن ژوند ولرې، نو کېده دې ټوله کړه، د حرکت وخت دې را رسېدلی دی.

د شکل له چپ اړخ څخه ښي اړخ ته د اوښتلو وخت دې رارسېدلی دی، یانې له تنخوا او ازاد کار څخه تجارت او پانگونې ته د اوښتو وخت دی.

### پنځم څپرکی
### د یوه متشبث ذهنیت

د پوهنتون تر بشپړلو وروسته مې د تجارت په پوهنتون کې MBA شروع کړه چې یو باتجربه روزل شوی متشبث شم. نهه میاشتې مې زده کړې وکړې او وروسته مې پوهنتون پرېښود. البته ماسټري مې ونه کړه.

د حیرانتیا ځای دا دی چې په دې ورځو کې زیات پوهنتونونه له ما غوښتنه کوي چې د دوی زده کوونکو ته په ټولگي کې د تشبث په اړه خبرې وکړم. زه نه غواړم دا ووایم؛ خو کله کله دا یو پیغور راته ښکاري.

هغه پوښتنه چې زیات وخت یې زده کوونکي کوي دا ده:«سرمایه دار یا پانگوال څنگه پېدا کړو؟» او «څنگه اصلي او لومړنۍ پانگه زیاته کړو؟» زه د دوی پوښتنې درک کولای شم، ځکه کله مې چې له عادي تنخوا لرونکو دندو سره مخه ښه وکړه او د تشبث او نوي کار خوا ته ولاړم، نو له ما سره هم دغسې پوښتنې وې.

نه مې پیسې لرلې او نه چا پانگونه راسره کوله. لویو شرکتونو هم خپله پانگه زما دروازې ته نه راوړله. نو دې زده کونکو ته مې څه ځواب ورکړی وای؟ ورته ومې ویل:((مخ ته ولاړ شئ او لاس په کار شئ. که لاس په کار نشئ، له تجارته ایستل کېږئ.))

د کاروبار د جوړولو لپاره د پانگې را ټولولو ته اړتیا نه لرئ، ځکه دا کار ستاسو لپاره مخکې شوې دی. اوس یوازې د کاروبار د رامنځته کولو اړتیا ده.

که څه هم زه اوس کافي پیسې لرم؛ خو بیا مې هم ټوله هڅه دا ده چې پانگه مې زیاته کړم. د یوه متشبث لومړۍ دنده دغه ده. موږ له درېیو ډلو خلکو څخه پانگه راټولوو چې هغه مشتریان، پانگوال او کارگر دي. د یوه متشبث په توگه ستا دنده دا ده چې خپلو تولیداتو ته مشتریان وموموې. که بریالی شوې چې د تولیداتو د پلور په بدل کې له مشتریانو پیسې ترلاسه کړې، نو پانگوال ډېره پانگه درکوي. که کارگر لرې، نو ستا دنده دا ده چې دوی داسې تولید درته وکړي چې ته د دوی د تنخوا لس چنده زیاتې پیسې وگټې. گڼې کاروبار دې غرقېږي او د نورو پیسو راټولولو ته هېڅ اړتیا نشته.

د MBA زده کونکي د دې ځواب په لټه کې نه وو. دوی د هغه جادویي فارمول یا پټو نسخو او کاروباري پلان په لټه وو چې دوی زر تر زره شتمن کړي. د دوی د استادانو هم له ما نه د دغسې ځوابو تمه نه وه، ځکه زما خبرې پرې وغمبېدې، د درس په جریان کې نارامه وو. دا ولې؟ ځکه چې دوی تشبث تدریسوي؛ خو متشبثین نه دي. دوی یوازې ثابت درس ورکوي چې ثابته تنخوا واخلي او هیله یې داوي چې یو رسمي تنخوا لرونکی کارگر شي.

زما موخه دا نه ده چې تاسو پیسې راټولي کړئ. په حقیقت کې هغه کاروباري جوړښت چې زه یې په دې کتاب کې له تاسو سره شریکوم، دا دی چې تاسو د کاروبار جوړولو لپاره د پانگې راټولولو ته اړتیا نه لرئ، ځکه دا کار ستاسو لپاره یو بل چا مخکې کړی دی. ستاسو لخوا یوازې د کاروبار جوړولو ته اړتیا ده. متشبث یانې هغه څوک چې کار کوي. د مسافرو له وروستۍ چوکۍ څخه راپورته شه، د موټر مخ ته راشه، شټرینگ ته کېنه او د خپل ژوند ټول واک په لاس کې واخله. دې ته تشبث وایي.

**دوام لري...**

# د یوویشتمې پېړۍ امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد

◀ اکسوس کتابپلورنځی

ملا محمد عمر له ۱۹۹٦ ز کال تر ۲۰۰۱ ز کال پورې په افغانستان کې د طالبانو د رژیم مشر و. دی یو له هغو کسانو و چې د امریکا متحده ایالتونه پسې گرځېدل او د ده د موندلو لپاره یې لس میلیونه ډالره جایزه اېښې وه.

د لومړي ځل لپاره طالبانو څو کاله مخکې د ملا محمد عمر ژوندلیک په خپل ویب سایټ خپور کړ. کله چې طالبانو دا کار وکړ، ځینو څېړونکو وویل چې د دې لپاره یې داسې کړي چې د ملا عمر د مرگ اوازو ته ځواب ووایي.


ملا محمد عمر په ۱۹۵۹ ز کال کې د کندهار په خاکریز ولسوالۍ کې په یوه بې وزله کورنۍ کې وزېږېد. ویل کیږي چې له پلاره یې نه کور درلود او نه هم ځمکه. د ده پلار هم ملا و. د ملا عمر پلار غلام نبي چې کله مړ کېده، زوی یې درې کلن و.

ملا عمر له پلاره یو زوی، خو د هغه له وفات وروسته د ده مور له مولوي محمد انور سره چې د ملا عمر تره دی، واده وکړ او درې ناسکه وروڼه او څلور خویندې یې وزېږېدې. مولوي انور ملا عمر ته ابتدایي دیني تعلیمات ورکړل او بیا د دوی کورنۍ اروزگان ته ولاړه او هلته یې تره په یوه جومات کې امامت پیدا کړ. کله چې د پخواني شوروي اتحاد پوځیان افغانستان ته راغلل، ملا محمد عمر شاوخوا نولس کلن و. هغه وخت دی د کندهار په میوند ولسوالۍ کې و او له مجاهدینو سره یوځای شو.

طالبان وایي چې ملا محمد عمر د شوروي ځواکونو سره د جگړې پرمهال څلور ځله ټپي شو او یوه سترگه یې هم هغه وخت ړنده شوه. ملا محمد عمر د مولوي محمد خالص اسلامي حزب له قوماندان ملا نېک محمد سره په جبهه کې و.

په کابل کې د ډاکټر نجیب د حکومت تر سقوط وروسته، چې د مجاهدینو ډلو په خپلو کې جگړې پیل کړې، ملا محمد عمر په کندهار کې و او بیا یې په ۱۹۹۴ ز کال کې د طالبانو مشر شو. ده ته په ۱۹۹٦ ز کال کې د کابل په گډون د افغانستان د ډېرو سیمو له نیولو وروسته طالبانو د امیرالمؤمنین لقب ورکړ.

ملا محمد عمر د خپل نږدې پنځه کلن واک پر مهال په کندهار کې پاتې شو. په دې موده کې د ده او القاعده شبکې اړیکې دومره ټینگې شوې چې د امریکا متحده ایالتونو له گواښونو سره سره، ده د اسامه بن لادن دفاع وکړه او هغه یې له افغانستانه ونه ایست. بیا چې په ۲۰۰۱ ز کال کې القاعده شبکې په واشنگټن او نیویارک کې تروریستي بریدونه وکړل، د امریکا متحده ایالتونو په مشرۍ نړیوالو ځواکونو د طالبانو رژیم ړنگ کړ او له هغې مودې را وروسته، د طالبانو مشر تري تم شو. په ۲۰۰۴ ز کال کې د ملا عمر په غږ وروستی پیغام خپور شوی او تر دې نېټې را وروسته وخت په وخت د ده په نوم چاپي اعلامیې خپرې شوې او غږیزې اعلامیې د نورو کسانو په اوازونو د ملا عمر له لوري ویل شوې دي.




د ملا عمر د ژوند او کړو وړو په اړه په دغه کتاب کې ډېر نور مسایل هم راغلي چې مینه‌وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو په مناسب قېمت تر لاسه کړي.



## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | مبانی سازمان مدیریت | خلیل الرحمن سروری | ۳۵۰؋ |
| ۲ | ۸۸ روز تا قندهار | رابرت ال. گرینییر/سنجر سهیل | ۳۵۰؋ |
| ۳ | فرستاده | زلمی خلیل زاد/هارون نجفی زاده | ۳۵۰؋ |
| ٤ | شبکه های کمپیوتری | عبدالرقیب افضلی | ۲۰۰؋ |
| ۵ | امراض سیستم معدی معایی | حبیب الله محبوب | ۲۷۰؋ |
| ٦ | بیماری های قلبی و عایی | نادر احمد اکسیر | ۳۸۰؋ |
| ۷ | امراض گوش گلو و بینی | باصره شریفی | ۲۵۰؋ |
| ۸ | امادگی مطمین برای امتحان تخصص صحت عام جلد اول | امان الله امعانی | ۲۷۰؋ |
| ۹ | کلید کامیابی در ازمون خدمات ملکی | امیرگل امینی | ۱۸۰؋ |
| ۱۰ | سیاست افغانستان روایتی از درون جلد اول و دوم | رنگین دادفر سپنتا | ۹۵۰؋ |
| ۱۱ | از پادشاهی مطلقه الی سقوط جمهوری دموکراتیک افغانستان | عبدالوکیل | ۱۱۵۰؋ |
| ۱۲ | لغت نامه اساسی اقتصاد | قیس محمدی | ۱٦۰؋ |
| ۱۳ | بانک سوالات تحریری و مصاحبه کاری | مسیح الله حقجو | ۱۳۰؋ |
| ۱٤ | راز های القاعده و پاکستان | اعزاز سید/فردوس کاوش | ۱۵۰؋ |
| ۱۵ | قدرت و کنترول رسانه ها | بهار توانگر | ۲۰۰؋ |
| ۱٦ | لطفا گوسفند نباشید! | محمود نامی | ۱۵۰؋ |
| ۱۷ | اصول سیاست خارجی و سیاست بین الملل | سید عبدالعلی قوام | ۱۷۰؋ |
| ۱۸ | اصول روابط بین الملل الف وب | سید حسن سیف زاده | ۲۲۰؋ |
| ۱۹ | بایسته های حقوق بین الملل عمومی | رضا موسی زاده | ۲۰۰؋ |
| ۲۰ | مدیریت منابع انسانی | اسفندیار سعادت | ۱۲۰؋ |
| ۲۱ | مدیریت عمومی | علی علاقه بند | ۱۵۰؋ |
| ۲۲ | آموزش دانش سیاسی | حسین بشیریه | ۱۲۰؋ |
| ۲۳ | بانک سوالات مدیریتی جلداول و دوم | عزت الله توحیدی فرخاری | ٦٦۰؋ |
| ۲٤ | بنیاد های علم سیاست | عبدالرحمن عالم | ۱۲۰؋ |
| ۲۵ | اصول و انواع تحقیقات علمی | احمد فرید دانش | ۱۵۰؋ |
| ۲٦ | تفهیم التفاسیر ۱۲ جلده | مفتی عبدالهادی حماد | ٤۰۰۰؋ |
| ۲۷ | مبانی و اصول اداره و مدیریت | عبداللطیف رحمانی | ۲۵۰؋ |
| ۲۸ | جزا پیژندنه | حفیظ الله دانش | ۲۰۰؋ |
| ۲۹ | د بانکداری حقوق | مصطفی نیازی | ۲۰۰؋ |
| ۳۰ | د یوویشتمی پیړی امیرالمومنین | اصف ژمن | ۱۰۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶ |
| € | ۸۱,۸۰ |
| Rp. | ٤۷۵ |
| ₹ | ۹۰۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹۲ |

### بيړنۍ شميرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتيايي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي

**مرستيال:** شفيق اميرزی

**ايډيټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي

**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري

**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان

**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# په روژه کې د خولې بد بوی، عوامل او درملنه يې!

ژباړه: شپنه سلګۍ/ياران وېبپاڼه

په روژه کې د خولې بوی زيات وي؛ ځکه چې د وجود مايعات کم وي، خوله وچه وي او په خوله کې لاړې کمې وي، اکثره خلکو ته د خپل ځان معلومات نه کېږي، چې له خولې يې بوی ځي او که نه، خو هغه کسان چې ورسره سروکار لري، هغوی يې حس کوي، ممکن هغوی يې د نزاکت او شرم له وجې څه ورته ونه وايي.

د خولې د بدبويي لاملونه

۱ــ بېلابېلې بکترياوې، چينجن غاښونه، د اورې او ستونې تکليفونه، د مايعاتو کمی، د هوږې، ګندنې، خامو پيازو، چکنې او اچارو خوراک، د معدې د ځينو ناروغيو لکه د معدې السر او هيليکو باکتريا له امله هم د انسان خوله بوی کوي او داسې نور...

۲ــ کله چې خوراک وکړو، د غاښونو په منځ کې د خوړو پاتې شونې هم بدبويي رامنځته کوي، هغه پاتې شونې خوړو سره بکترياوې وده کوي، چې پای کې هم د خولې بدبويي رامنځته کېږي او هم مو غاښونه نور هم پسې چينجن کېږي.

۳ــ له دې پرته د ټانسلونو په ستونې کې د زياتې غوښې له امله هم بدبويي رامنځته کېږي.

۴ــ په روژه کې کوښښ پکار دی، چې زيات مايعات وخورئ؛ ځکه د مايعاتو کمی مو د خولې بدبويي زياتوي، که د ورځې کريم او برس نشې کارولی، مسواک کارول جايز دي، د شپې له ويده کېدو وړاندې او همداسې د پېشنمي پر وخت ارو مرو خوله برس کوی، هڅه وکړئ چې پر غاښونو سربېره مو پر ژبه هم برس او کريم ووهئ.

۵ـ د سګرټو، نصوارو او نورو نشه يي توکو له استعمال څخه هم د خولې بدبويي پيدا کېږي دا چې د نشه‌يي توکو نور زيانونه څه دي، پر دې ډېرې خبرې کېدای شي، خو اوس به يې دومره يادونه وکړو، چې د زړه، سږو، سرطان او تنفسي سيستم اکثره ناروغۍ د همدې له امله رامنځته کېږي.

څنګه وپوهېږو چې له خوله مو بدبوی کوي که نه؟

که مو په خوله کې لاړې ټينګې او کمې وي، خوله مو وچېدله، د ژبې پر سر مو سپين رنګې طبقه وه او يا مو نشه‌يي توکي کارول، نو پوه شئ چې خوله مو بد بويي لري.

درملنه

۱- غاښونه مو هر وخت برس يا مسواک کړئ.

۲- د ستونې يا تنفسي ناروغيو پر وخت له ډاکټر سره مشوره وکړئ.

۳- که مو غاښونه تور او چينجن وو، ډک او پاک يې کړئ.

۴- د شپې زيات خوراک مه کوئ.

۵ـ- مايعات زيات اخلئ.

٦- نشه‌يي توکي مه کاروئ.

۷- هر وخت کوښښ وکړئ چې د غاښونو د مينځلو ځانګړي لوشن غرغره کړئ، له دې سره به مو هم غاښونه پاک وي، هم به مو ستونی نه مېکروبي کېږي او هم به مو خوله بوی نه کوي، که نور نه وي، هايدورجن پيروکسايد له مناسبه اندازه اوبو سره ګډوئ او بيا يې په خوله غړوئ.

۸ ـ د ژاولو ژوول مو هم د خولې بوی ورکوي، هم مو غاښونه پاکوي او هم مو هاضمه جوړوي.

۹ـ د نعنا يا پودينه ژوول او خوړل هم د خولې بوی ورکوي او هم هاضمه جوړوي، اکثره د غاښونو په کريمونو کې له پودينې څخه ګټه اخيستل کېږي.

۱۰ـ د لونګو او ايل ژوول مو هم د خولې بدبويي ورکوي او هم د هاضمې په جوړولو کې مرسته کوي.

۱۱ـ ويټامين سي لرونکي خواړه لکه مالټه، ليمو او نور... مو هم خوله لمده ساتي او هم مو د خولې بوی ورکوي.

۱۲ـ ګشنيز يا دنيه هم د غاښونو بدبويي ورکوي، ګشنيز اوری روغې ساتي او د غاښونو له توربدو مخنيوی کوي، د يوناني طب له مخې ګشنيز په طبي بوټو کې حسابېږي، وچ او سوړ طبيعت لري، همدارنګه د ميندو شيدې هم زياتوي، له دې پرته د غاښونو د درد د ارامولو لپاره دګشنيزو تخم يا دانې ژوول ګټه کوي.

۱۳- په روژه کې مو که خولې بوی کاوه، له پېشنمي وروسته مو ارو مرو غاښونه برس کړئ، کوښښ وکړئ چې د ښه کيفيت کريم استعمال کړئ. کوچنۍ ټوټه ادرک يا زنجبيل وژوېئ، يو څو شېبې يې اوبه په خوله کې پرېږدئ، له دې وروسته بيا خوراک مه کوئ.

## اعتراض کوونکي: په بلخ کې د ورمې شپې په هوايي بريد کې ۲۰ ملکيانو ته مرګ ژوبله اوښتې

د بلخ ولايت د بلخ ولسوالۍ اوسېدونکي ادعا کوي، چې د ورمې شپې په هوايي بريد کې ۹ ملکيان وژل شوي او ۱۱ نور ټپيان دي.

خو په شمال کې د ۲۰۹ شاهين قول اردو مطبوعاتي دفتر بيا ويلي، چې وژل شوي کسان ټول طالبان دي او هغه مهال پرې هوايي بريد شوی، چې پر امنيتي ځواکونو د بريد لپاره يې چمتووالی نيوه.

بلخوا د بلخ ولسوالۍ لسګونه کسان د وزير محمد ګل خان ځلور لارې کې راټول شوي وو او ادعا يې کوله، چې د ورمې شپې هوايي بريد د غونډانو کلي ۲۰ اوسېدونکو ته مرګ ژوبله اړولې ده.

دوی چې د يو شمېر وژل شويو کسانو جسدونه يې د اعتراض په ډول د ولسوالۍ بازار ته راوړي وو، همدا راز غوسه وو، چې د جګړې ښکېل اړخونه د ملکيانو د ژوند خونديتوب ته پام نه کوي.

د بلخ ولسوالۍ اوسېدونکي حاجي غلام سخي د لاريون په جريان کې رسنيو ته وويل، چې ورمه شپه ۱۰ بجې د يادې ولسوالۍ په غونډان کلي کې هوايي بريد وشو، چې په پايله کې يې ۹ ملکيان ووژل شول او ۱۱ نور ټپيان شول.

نوموړي زياته کړه: ((دا چې روژه ده؛ نو ډېری خلک د شپې له خوا په خپلو کروندو کې کار کوي، د تراويح لمونځ پای ته رسېدلی و، يو شمېر کروندګر راټول شوي وو، چې ځمکو ته لاړ شي او پنبې کرلو ته ځمکه اماده کړي، چې طياره راغله او بمونه يې وغورځول.»

د هغه په وينا، وژل شوي کسان ټول ملکيان دي. د بلخ ولسوالۍ قومي مشر حاجي انارګل هم پژواک ته ويلي، چې د ورمې شپې په هوايي بريد کې وژل شوي کسان ملکي وګړي دي.

د هغه په وينا، که حکومت وايي چې طالبان يې وژلي، نو بيا خلک دومره جرئت کولی شي چې د طالبانو مړي را واخلي او د ولسوالۍ بازار ته يې راوړي.

خو د ۲۰۹ شاهين قول مطبوعاتي مسوول حنيف رضايي بيا ويلي، چې د بلخ ولسوالۍ د ورمې شپې په هوايي بريد کې وژل شوي کسان ټول طالبان دي.

رضايي زياته کړه: (( مور د کره استخباراتي معلوماتو پر اساس بريد ترسره کړی، طالبانو له يوه اسکواټور څخه په استفادې د شپې په تياره کې عمومي سړک تخريباوه او بيا يې امنيتي ځواکونو ته کمين نيوه، چې موږ پرې بريد وکړ او له ۲۰ څخه ډېر طالبان مو ووژل.» هغه زياته کړه، چې خلک د طالبانو له خوا مجبور کړای شي، چې لاريون ته راووځي.

## مايک پمپيو: حکومت او طالبان دې د پرونيو بريدونو عاملينو ته سزا ورکړي



په داسې حال کې چې افغان حکومت تر ډېره د پرونيو بريدونو پړه پر طالبانو ور اچوي، امريکا د لومړي ځل لپاره پر طالبانو او افغان حکومت دواړو غږ کړی چې په کابل او ننګرهار کې د وروستيو وحشتناکو بريدونو عاملين د خپلو اعمالو په سزا ورسوي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پمپيو ويلي پر ملکيانو هر ډول بريد د بشري حقونو نقض دی او پر نوو زېږېدلو ماشومانو بريد وحشت ګڼل کېږي. نوموړي پر طالبانو او افغان حکومت غږ کړی چې ددغه پېښې عاملين دې ژر تر ژره پيدا او د خپلو اعمالو په سزا ورسوي. د پمپيو په خبره افغانان حق لري چې په سوله او امنيت کې ژوند وکړي او ددې وخت دی چې د سولې په برخه کې فعاليتونه چټک شي. نوموړي ويلي که تاوتريخوالی کم نه شي نو ښايي په افغانستان کې د سولې روانه پروسه زيانمنه شي او رامنځ ته شوی فرصت ضايع شي. هغه پر طالبانو او افغان حکومت غږ کړی چې د سولې لړۍ چټکه کړي او په دې توګه د ترهګرو پر وړاندې واحد دريځ رامنځ ته کړي.

## ولسمشرغني: امنيتي ځواکونه دې د طالبانو او نورو وسله والو ډلو پر وړاندې بېرته يرغليز حالت خپل کړي

ولسمشر غني په هېواد کې د وروستيو بريدونو په غبرګون کې امنيتي ځواکونو ته امر وکړ چې له دفاعي حالته ووځي او يرغليز حالت خپل کړي.

ولسمشر د کابل ، ننګرهار او په هېواد کې د وروستيو نورو بريدونو په اړه د ملي ټلوېزيون له لارې ولس ته په خپله وينا کې وويل: «خدای مو له کرونا او د ترهګرو له بريدونو وساته.» هغه زياته کړه، د طالبانو ډلې په دې وروستيو کې د سولې لپاره د حکومت ، ولس او نړيوالې ټولنې له پرله پسې غوښتنو سره سره اوربند نه دی منلی او خپلو بريدونو ته يې ادامه ورکړې ده.

ولسمشر غني وويل چې طالبانو او داعش همدا نن(پرون) په کابل کې پر روغتون ، ننګرهار کې پر جنازې او د هېواد نورو سيمو کې بريدونه کړي دي.

د نوموړي په وينا، په دې بريدونو کې د ښځو او ماشومانو په ګډون لسګونو هېوادوالو ته مرګ ژوبله اوښتې او دا بريدونه يې په کلکه وغندل.

ده زياته کړه، چې د ولس، علماوو، حکومت او نړيوالې ټولنې له خوا د سولې او اوربند لپاره له پرله پسې غوښتنو سره سره طالبانو دغه کار ته غاړه نه ده ايښې، له افغان وژنې يې لاس نه دی اخيستی او خپلو بريدونو ته ادامه ورکوي.

ولسمشر غني وويل: (( د هېوادوالو او هېواد څخه د دفاع او د عامه ځايونو او تاسيساتو د حفاظت او د طالبانو او نورو ترهګرو ډلو د کېدونکو بريدونو د له منځه وړلو په موخه د هېواد امنيتي او دفاعي ځواکونو ته امر کوم چې له دفاعي حالته ووځي او يرغليز عمليات پيل کړي.»

د هغه په وينا، په تکرار سره يې ويلي او بيا يې هم په ټينګار سره وايي، چې پر افغانستان تحميل شوې بدمرغه جګړه بايد پای او تلپاتې او باعزته سوله تامين شي. ده زياته کړه، د طالبانو ډلې د پرديو په لمسون جنګ ته او د وينې تويېدنې لړۍ ته ادامه ورکړې ده.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

STAY HOME
STAY SAFE
وایګل چاپ
WAYGAL
PRINTING CO
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د غويي ۲٤مه | د ۲۰۲۰ د مي ۱۳مه | ٥٤۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

چهارشنبه ۱۳۹۹/۲/۲٤

د سهار اذان ۰۳:۱٤ د ماښام اذان ۰٦:٥۱

رمضان کریم

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳٥ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱٤ | لمر ختل ۰٤:٥۲ | ماسپښین ۱۱:٥۰ | مازیګر ۰۳:۳٦ | ماښام ۰٦:٥۱ | ماخوستن ۰۸:۲٦

## نړۍ



د روغتیا نړیواله سازمان خبرداری؛

# د وضع شویو محدودیتونو له لرې کېدو سره سم، د کرونا ویروس مثبتې پېښې ډېرې شوې

۳

## ملګرو ملتونو د مصطفی الکاظمي په مشرۍ د عراق له نوي حکومت څخه خپل ملاتړ اعلان کړ



د عراق په چارو کې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي د عراق له نوي لومړي وزیر سره په لیدنه کې د دغه هېواد له نوي حکومت څخه خپل ملاتړ اعلان کړ.

د دغه هېواد لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې جنین هنیس پلاسخارت د عراق له نوي لومړي وزیر مصطفی الکاظمي سره د لیدنې پرمهال له نوموړي د پراخو اصلاحاتو غوښتنه کړې ده.

نوموړې پر نړیوالې ټولنې هم غږ کړی چې د عراق له نوي حکومت څخه په ملاتړ دې په دغه هېواد کې د شته ستونزو په حل کې له الکاظمي سره مرسته وکړه.

دا په داسې حال کې چې اکاظمي تېره پنجشنبه د پارلمان د ټولو ۲۳ غړو له ډلې څخه د ۱٥ مثبتو رایو په اخیستو سره د دغه هېواد د نوي لومړي وزیر په توګه دنده پیل کړه. تر دې وړاندې د عراق پخوانی حکومت تېر کال په دغه هېواد کې تر خونړیو لاریونونو وروسته استعفا ته اړ شو. له هغې وروسته د عراق ولسمشر عادل عبدالمهدي پارلمان ته څو کسان د لومړي وزیر په توګه معرفي کړل، خو د باور رایه یې ترلاسه نه کړه. د یادونې ده چې له عراق څخه د امریکایي ځواکونو ایستل، د فساد او بې وزلې پر وړاندې مبارزه هغه ننګونې دي چې د نوي حکومت په مخ کې پرتې دي.

## راپورونه: په روسیې کې د کرونا لپاره په ځانګړي شوي روغتون کې اورلګېدنې پنځه کسان وژلي دي

د راپورونو له مخې، د روسیې په سن پټرزبورګ ښار کې په یوه روغتون کې د اورلګېدنې له کبله پنځه تنه مړه شوي دي.

روسي رسنیو ویلي چې دغه اورلګېدنه د یاد ښار په سووتوا ګورګي روغتون کې رامنځته شوې او ۱٥۰ نور کسان یې ژغورل شوي دي.

د دغه هېواد د قضایي څېړنو اداري ویلي چې اورلګېدنه د مصنوعي تنفس د یوه ماشین له کبله رامنځته شوې او یاد پنځه کسان هم د سخت دود او اوکسېجن د کموالي له کبله مړه شوي دي.

چارواکو ویلي چې دغه روغتون په سن پټرزبورګ ښار کې د د کرونا ویروس د ناروغانو لپاره ځانګړی شوی چې په بشپړه توګه له منځه تللی دی. دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم په روسیه کې د کرونا ویروس لپاره په ځانګړو شویو روغتونو کې اورلګېدنې ګڼو کسانو ته مرګ ژوبله اړولې ده.

بلخوا د روسیې د بېړنیو پېښو سره د مبارزې اداري ویلي چې ورمه ورځ د دغه هېواد په پلازمېنه مسکو کې د بوډا کسانو د ساتنې په یوه مرکز اورلګېدنې ۱۸ کسانو ته مرګ ژوبله اړولې ده. د سرچینې په خبره، په پېښه کې ۹ تنه مړه شوي او ۹ نور ټپیان شوي دي.

## محب: طالبان سبب شده تا گروه‌های تروریستی دیگر زیر چتر این گروه رشد و فعالیت نمایند

حمدالله محب مشاور امنیت ملی رئیس جمهور گفته است، طالبان سبب شده تا گروه‌های تروریستی چون داعش، حقانی، لشکر طیبه و شبکه‌های تروریستی دیگر زیر چتر این گروه رشد و فعالیت نمایند.

در یک خبرنامه ای که از طرف شورا امنیت ملی افغانستان منتشر شده، حملاتدیروزی کابل و ننگرهار را نکوهش کرده است.

در خبرنامه آمده است: «دشمنان دین و انسانیت با انجام حملهٔ تروریستی در ماه مبارک رمضان بالای شفاخانه ملی صد بستر کابل، مراسم جنازه در ننگرهار و افراد ملکی در خوست و پکتیکا بار دیگر نشان دادند که این گروه به هیچ اصل و ارزشی پابند نبوده و همواره ضد روش‌های اسلامی و انسانی رفتار می‌نمایند.»


محب گفته است ، تعهد و حسن نیت دولت مبنی بر آوردن صلح واضح بوده اما طالبان افغان‌کشی، خون‌ریزی و قساوت را با حملات‌شان در اماکن عامه و مراسم دینی و سنتی که اطفال، زنان، ریش سفیدان، مریضان و داکتران می‌باشند خلاف تمام موازین دینی، انسانی و حقوق بشری ادامه دادند.

موصوف افزوده است، در عین‌حال طالبان سبب شده تا گروه‌های تروریستی چون داعش، حقانی، لشکر طیبه و شبکه‌های تروریستی دیگر زیر چتر این گروه رشد و فعالیت نمایند بنابر این اطلاعات دولت نشان می‌دهد این گروه‌ها با هم روابط دوام‌دار و قوی دارند و بخشی از یک دیگر بوده و فعالیت‌ها را مشترک انجام می‌دهند .

مشاور امنیت ملی گفته است، عدم کاهش خشونت در مخالفت به توافق‌نامه‌ی است که میان گروه طالبان و ایالات متحده آمریکا به امضا رسیده و همچنین روی آمادگی برای صلح تاکید شده بود.

## ژوند

## څنګه پوه شو چې د بدن اوبه مو کمې دي؟



د انسان بدن اوبو ته ډېره اړتیا لري، خو کله نا کله داسې کېږي چې د ډېر کار او بوختیا له کبله اوبه څښل له سړي هېر شي. په ژمي کې، په ځانګړې توګه دغه چاره ډېره ترسترګو کېږي.

دا د انسان روغتیا ته ډېر تاوان رسوي؛ ځکه جسم د فعالیت د سم ترسره کولو لپاره اوبو ته اړتیا لري. اوړی وي که ژمی، د انسان بدن یوې اندازې اوبو ته اړتیا لري. کمی یې بیا انسان له ځینو روغتیایي ستونزو سره مخ کولای شي. د اوبو د کمې پرمهال د انسان په بدن کې ډېرې نښې نښانې لیدل کېږي، چې یو یې هم د سر درد دی. که سر مو هر وخت درد کوي، د دې لامل دا دی چې تاسې په ډې هایډرېشن اخته یی. په دغه وخت کې د سردردۍ د درملو پر ځای، ښه دا ده چې دوه ګیلاسه اوبه وڅښئ او وګورئ چې سردردي مو ښه کېږي او که نه.

## په شنه طبیعت کې ګرځېدل فکري سکون درکوي



انسان طبیعي موجود دی او د وجود ساعت یې په طبیعي شپې او ورځې پورې تړلی، هغه څه چې مصنوعي او ټکنالوژیکي پرمختګ ګډوډ کړي دي .د کلوراډو پوهنتون د خوب او کرونوبیولوژۍ څانګې مشر کینټ رایټ وایي: «زموږ معاصر چاپېریال زموږ دننه طبیعي ساعت ګډوډ کړی، خو چې موږ کله ویده شو، دا لا هم زموږ د وجود په داخلي ساعت پورې تړلې مسئله ده چې په ګډوډېدو یې خوب خراب شوی». نوموړي سپارښتنه کوي چې د اونۍ په رخصتیو کې د ټکنالوژۍ له نړۍ لرې طبیعي ژوند ستاسو د وجود ګډوډ شوی ساعت بېرته سمولی او خوب مو منظمولی شي. رایټ وایي، دا تجربه یې په اوړي کې هم څو ځلې تکرار کړې او ورته لاسته راوړنې یې لرلې دي. د کلوراډو پوهنتون دغه څېړونکی وایي، موږ هر چا ته نه وایو چې د ښه خوب په خاطر دې اوس غره په غره وګرځي، بلکې ښه دا ده چې په خپل ورځني ژوند کې طبیعي برخه ور زیاته کړو.

ماستر ډېبټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.



www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank